**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

**د اردن د امنیتي ځواکونو له لوري د حزب التحریر د دوو غړو نیول**



**(ژباړه)**

د اردن جنایت کار امنیتي سرویس د اسلام او حزب التحریر د غړو پر وړاندې د یاد حزب د تاسیس له وخته تر اوسه خپلې مبارزې ته دوام ورکړی. د دغې ځپونکې ادارې ځواکونو«محمود جرادات» په نیمه شپه کې ونیوه او نامعلوم ځای ته یې ولېږداوه. همدارنګه دغو وحشي ځواکونو استاد محمد ابوالهیجا د سهار تر لمانځه وړاندې په هغه مجسد کې ونیوه چې نوموړی به د لمانځه د ادا کولو لپاره ورتلو. د دغه رژیم ظلم ان هغې کچې ته رسېدلی چې وحشي ځواکونه یې د الله سبحانه وتعالی د کور او مسلمانانو حرمت ته پام نه کوي او په ډېر کبر سره د الله سبحانه وتعالی کور ته ننوځي او د حزب التحریر دعوت کوونکي نیسي او ځوروي. د دوی ظلم تر دې کچې رسېدلی چې ابولهیجا یې لمانځه ادا کولو ته هم پرېنښود. کله یې چې ورته وویل، پرې مې ږدئ چې لمونځ وکړم، خو ظالمو ځواکونو یې غوښتنه ونه منله او په ډېر وحشیانه ډول یې ونیوه. د دغې صحنې په لیدو سره کله چې نورو لمونځ کوونکو د مسجد دننه لاریون پیل کړ، یو سرتیري د ټوپک شپلۍ پر لمونځ کوونکو ور واړوله او هغوی ته یې سپکې سپورې وویلې. لمونځ کوونکي یې په ډېر وحشیانه ډولووېرول او ویې وویل: «که یو ګام وړاندې راشئ، ډزې دربانډې کوو» په وروستیو کې یې وویل: «هر څوک چې لاریون کوي، په همدغه ډول نیول کېږي.»

**اې خلکو!** ایا نه وینئ چې د اسلام او دعوت کوونکو پر وړاندې د اردن د امنیتي بنسټونو او جنایت کارو د حکومت جرمونه کومې کچې ته رسېدلي دي؟ دغه رژیم له خپلو ظالمو نظامي اډو څخه په ټول هېواد کې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې له تروریزم سره د جګړې تر شعار لاندې ګټه اخلي. له بل لوري، دغه رژیم د شام د سپېڅلي انقلاب او د اسلامي امت د فعالیتونو پر وړاندې خپل یووالی ټینګ کړی او په ټولو برخو کې له یهودیانو سره جوړ او همکار دي.

دغه یوځایوالی نه یوازې د غلا شوي ګاز او  د مصر له جنایت کوونکي حکومت او یهودي دولت ته د ختیځې مدیترانې د ګازو انجمن په واک کې ورکولو له امله دی، بلکې د فلسطین د مسلمانانو د ځمکو ورکول هم پکې شامل دي. همدارنګه، د طبیعي سرچینو پلور، عامې شتمنۍ او د پیسو نړیوال صندوق اجرایوي قوانین، دغه ټول د سیاسي او اقتصادي نظم تر لاسه کولو او د فقر او لوږې رامنځته کولو په موخه  د امریکا ابزار دي. یاد رژیم د کفري قوانینو لکه د مالیاتو قانون او الکترونیکي جنایتونو په تصویب سره غواړي حکومت او د حکومت غلامان د خلکو له محاسبې په امن کې کړي او هغوی ته یې سخت قوانین ټاکلي دي او همدارنګه هر هغه هوښیار سړی نیسي چې حکومت د فساد لکه غلا، خیانت او د الله سبحانه وتعالی او مومنانو د دین پر وړاندې دسیسې جوړولو، له امله محاسبه کوي. د حکومت له لوري د حزب التحریر د دعوت کوونکو پر وړاندې د ظلم، ځورولو او باطلېدو په موخه د امنیتي بنسټونو سمبالول، موږ ته رایادوي چې یهودیانو د «اقصی» له ساتونکو سره وکړل. دغه رژیم د یهودیانو اعمال قدم په قدم له کوم بدلون پرته خاري.

اې د اردن خلکو! پر تاسو واجب ده چې دغه رژیم د خپل خیانت، جنایت او ظلم له امله محاسبه کړئ، څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«أَلاَ إِنَّ أَفْضَلَ الْجِهَادِ كَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ»**

***ژباړه:*** *له شک پرته غوره جهاد د ظالم پاچا پر وړاندې د حق ویل دي.*

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«لَتَأْمُرُنَّ بالْمَعْرُوفِ، ولَتَنْـهَوُنَّ عَنِ المُنْكَرِ، أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْهُ، ثُمَّ تَدْعُونَهُ فَلا يُسْتَجابُ لَكُمْ»**

(سنن ترمذی)

***ژباړه:** ایا په معروف امر او له منکر څخه منع کوئ،یا له دې پرته نېږدې ده چې الله سبحانه وتعالی پر تاسو خپل عذاب راولي او هغه وخت به تاسو د خپل ځان د ژغورلو لپاره الله سبحانه وتعالی ته دعاوې کوئ او ستاسو دعا قبوله نه شي؟*

موږ په دې کې هېڅ شک نه لرو چې دغه ځپونکي اقدامونه د محدودیت رامنځه کولو لپاره یوه شیطاني هڅه او د نبوت پر تګلاره د راشده خلافت د تاسیس په واسطه د اسلامي ژوند رامنځته کولو لپاره د دعوت په لاره کې خنډونه دي؛ چې حزب التحریر له ټول امت سره د اسلامي نظام رامنځته کېدو لپاره فعالیت کوي. همداراز په اردن او نورو اسلامي خاورو کې د ښکېلاکګرو غربي کافرانو او د دوی د حکومتونو د امنیتي بنسټونو په واسطه دغه وحشیانه بریدونه موږ په نړۍ کې د خلافت د بیا راژوندي کېدو زیري ته نېږدې کوي او دغه پېښه زموږ هوډونه پیاوړي کوي. د دې تر څنګ له سیاسي او ثقافتي فعالیتونو سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم له تګلارې څخه د پیروۍ لپاره زموږ اراده نوره هم پیاوړې کوي، ترڅو د نبوت پر تګلاره اسلامي دولت تاسیس کړو.

**﴿مَن يَتَوَلَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا فَإِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْغَالِبُونَ﴾**

[مائده: ٥٦]

***ژباړه:** هغه کسان چې الله سبحانه وتعالی، رسول لله صلی الله علیه وسلم او مومنان د خپلو دوستانو په توګه ومني، له شک پرته چې بریالي دي.*

**د حزب التحریر ـ ولایه اردن مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۱۷/۱۴۴۰**

**۱۴۴۰هـ.ق، د جمادي الاول ۱۵مه**

***۲۰۱۹م، د جنوري ۲۱مه***